# مطبوعاتي اعلامیه

## د یهودو پر وړاندې د تعصب په اړه د ډنمارک د لومړي وزیرې څرګندونې له اسلام څخه کرکه بیانوي

د ډنمارک لومړۍ وزیره میټ فریډریکن څو ورځې وړاندې مستعمره فلسطین ته په رسمي سفر تللې وه. له یهودي الاصله ولسمشر ریون ریولن سره یې په مستعمره بیت المقدس کې وکتل او همداراز د اشوټز د خپلواکۍ د ۷۵مې کلیزې په یاد غونډه کې یې ګډون هم وکړ.

په داسې یوه ایالت کې د عام وژنې د قربانیانو یادول چې دغه ایالت د فلسطین د اصلي خلکو پر وړاندې د عام وژنې پر اساس جوړ شوی دی، نه یوازې منافقت دی، بلکې دا پر قربانیانو پورې ملنډې وهل هم دي. بله رسوایي یې دا وه، چې د بنیامین نتانیاهو په څېر جنګي مجرم هم په یاده غونډه کې وینا وکړه، هغه چې په غزه کې د زرګونو بې ګناه مېرمنو، بوډاګانو او ماشومانو د وژلو مسوول دی.

وړاندې له دې چې میټ فریډریسکن لاړه شي، مسلمانان یې د یهودو پر وړاندې په تعصب کړلو تورن کړل. هغې ادعا وکړه، چې له ځینو هېوادونو څخه کډوالي د یهودو پر وړاندې د تعصب د ډېروالي لامل شوې ده، د دې موخه په ښکاره توګه اسلامي هېوادونه وو. د یهودو پر وړاندې تعصب ژورې اروپایي رېښې لري، په ځانګړې ډول په رینډر ښار کې د نوي ـ نازیانو له لوري د یهودانو د قبرونو ډېرې ړنګول د یادولو وړ دي، چې د ډنمارک اوسېدونکي وو. همداراز دا د هغو کسانو په قضیې پورې هم اړه لري، چې په وروستیو کې یې د ډنمارکي یهودانو په بکسونو کې د زیړو ستورو سټیکرونه اېښې وو.

هغه هېوادونه چې مسلمانان ترې کډوال شوي دي، یو بېل تاریخ لري. د یهودو پر وړاندې د تعصب په اړه باید وویل شي، چې یهودان د هسپانیې په څېر د اروپایانو له خونړیو ظلمونو څخه تښتېدلي وو. دوی هغه وخت له اسلامي خاورو پرته چې قدرت یې درلود، بل هېڅ ځای د ښه راغلاست او پاتې کېدو لپاره پیدا نه کړ.

په ډنمارک کې له پېړیو راهیسې د یهودانو پر وړاندې کرکه روانه ده. په ۱۸۱۹م کال کې د یهودانو ځورول دومره ترینګلې وضعیت ته ورسېدل، چې حتا پوځ په کوپنهاګن ښار کې بېړنۍ وضعیت اعلان کړ. د ډنمارک لویې ورځپاڼې لکه پولیټیکن، جیلانډز پوسټین او بیرلینسکي په ۲۰مه پېړۍ کې د یهودو ضد احساساتو په خپرولو کې ډېرې محتاطې وې. یعنې هغه مهال د یهودو پر وړاندې تعصب داسې معمول و، لکه اوس چې د اسلام پر وړاندې کرکه معمول ده. د اروپا د تعصب هغه تیاره وختونه باید په اسلام پورې ونه تړل شي، ځکه دا هېڅ حقیقت نه لري او یوازې یوه دسیسه ده.

د پروپاګند د یوې برخې په توګه، دغه لومړۍ وزیره غواړي چې د صهیونېستي استعمار په اړه د سعودي نیوکې د یو ځانګړي تعریف په کارولو سره د یهودو خلاف بیان کړي او د هغه چا نوم بد کړي چې د «اسراییل» په نوم دولت باندې نیوکه کوي. په هر صورت، د فلسطین د ازادۍ لپاره غوښتنه له ټولو یهودانو سره د جګړې غږ نه، بلکې دا د غیر قانوني «اسراییل» د اشغال پای ته رسولو غوښتنه ده. د نظامي ځواک په وسیله په ټول فلسطین کې د مسلمانانو مقاومت د ډنمارک د مقاومت له هغه حق څخه کم نه دی، چې په ۱۹۴۰مو کلونو کې یې له جرمني سره جګړه وکړه.

په ملي محکمه کې د مونزر عبدالله پر وړاندې فیصله باید سیاسي پرېکړه وګڼل شي، لکه څرنګه چې د «اسراییلو» پر وړاندې هر ډول انتقادي بیان جرم ګڼل کېږي. هغه د جمعې د خطبې له امله چې د فلسطین د وحشي «اسراییلو» د استعمار په اړه وه، محکوم شوی دی. د هغه وینا په عمومي توګه د یهودانو په اړه نه وه. په خبرو کې یادونه وشوه، چې د اشغال له منځه وړل یوازې د اشغال پر وړاندې د بریدونو له لارې شونی دی. دا د یهودانو پر وړاندې د جګړې اعلامیه نه وه. له بل پلوه، دا د هر ډول پوځي اشغال په اړه سم اسلامي نظر دی، که هغه په فلسطین، کشمیر یا افغانستان کې وي. د یهودو په اړه تعصب له ډېر وخت راهیسې د فلسطین د استعمار پر وړاندې د خبرو د تحمیلولو لپاره یوه سیاسي وسیله ده. مسلمانان به هېڅکله دا ونه مني او دا مهمه نه ده چې څومره سیاسي پرېکړې به تصویب شي.

**په ډنمارک کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۴مه**

**۲۰۲۰م کال، د جنورۍ ۲۹مه**

**<u>د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۰۲</u>**